# د حضرت سید میر انور شاه په کلام کښې

# د ځینې کلاسک شاعرانو ذکر

# Commemoration of some classical poets

# in Syed Mir Anwar Shah's poetry

Issn 2304-1463

[1]: Dr Nasrullah Khan
[2]:Dr Zar Muhammad
[3]Dr Sajjad Elahi

Abstract:

Syed Mir Anwar Shah is basically a Sufi poet who was born around 1113 A.H in village called kalaya in Tirah. All the poetic flavor and colors are visible in his poetry, but it is a matter of luck that he mentioned many important poets of his Era in his poetry just like Rahman BaBa, Hameed BaBa, Sadar Khan Khattak, Qamber Ali Khan afridi and many others. In this paper a comparison of this poets mentioned by Mir Anwar Shah is presented.

Keywords: Syed Mir Anwar Shah, classical poets, Impacts, era.

حضرت سید میر انور شاه زمونږ د کلاسک شاعرانو رحمان بابا، عبدالحمیدبابا، عبدالقادر خان ختک، قنبرعلي خان افریدي او ځینې نورو شاعرانو هم عمر او هم عصر دے چې په دوي کښې ئې د ځینو شاعرانو ذکر په خپل کلام کښې کړے دے. د دوي نه پرته ئې ځینې نور شخصیات هم یاد کړي او ستائیلي دي.

سید میر انورشاه یو عارفِ کامل په ظاهري او باطني علومو بهره ور شاعر ؤ چې په مختلفو نامو مشهور ؤ لکه انورشاه، میرانور، میر انور شاه او سید میاں (میه).

[1] : Assistant Professor Department of Pashto ICUP
[2] : Lecturer Department of Pashto ICUP
[3] : Lecturer Department of Pashto ICUP

حضرت سید میر انور شاه د حضرت سید میاں دادا زوئے، د حضرت سید میرعاقل شاه نمسے او د حضرت سید میر کبیر کړوسے دے چې د تاریخ پېدائش ئې صحیح پته نۀ لګي خو د ډاکټر نصرالله خان د اندازې تر مخه په کال ۱۱۱۳هـ کښې پېدا شوے دے.

" انورشاه بابا د خیبر پښتونخوا په جنت نظیر سیمه وادي تیراه اورکزۍ ایجنسۍ په کلایه کلي کښې په کال ۱۱۱۳هجرۍ بمطابق 1701عیسوي کښې پېدا شوے ؤ-"[1]

دا اندازه د ډاکټر سید مقیل حسېن حسېني د اقتباس په رو سره هم درسته لګي چې د میر انورشاه بابا د وفات په حقله ئې لیکلے دے.

"ایک محتاط اندازے کے مطابق سید انور شاہ نے تقریباً سو سال کی عمر پائی تھی۔ سید بزرگوار کی تاریخ وفات ۱۵ رجب المرجب ۱۲۱٤ ھجری بمطابق ۱۳ دسمبر ۱۷۹۹ ہے۔"[2]

د سید میرانورشاه مزار د کلایه کلي سره نزدې لیړي کښې اوس هم شته چې د مغل طرز تعمیر ښکلے ګنبد پرې جوړ دے چې د دوي د خاندان ځینې نور قبرونه په کښې هم موجود دي.

"جناب سید میر انور شاہ اعلیٰ اللہ مقامہ کا مزار بھی لیڑی کے مقام پر آب تاب کے ساتھ چمک رہا ہے۔"[3]

د سید میر انور شاه شاعري ډېر رنګونه لري چې د خدائے پاک، نبي پاک او اهل بېت سره د خپلې مینې ډېره څرګندونه ئې په کښې کړې ده. د خپل وخت د ځینې خلقو مرثیې ئې هم لیکلې دي لکه د خپل ورور حضرت سید میر ولي، قنبرعلي خان، دائم خان او ظفرخان وغېره چې د هغه وخت یاد وړ خلق وو.

د دې تر څنګه د خپل عصر د ځینې شاعرانو په غزلو ئې هم تضمین کړے دے چې په خپل ځائې به ئې ذکر وشي. د رحمان بابا، صدرخان خټک او میرحسن زي د غزل جواب ئې هم کړے دے.

په دغه شخصیتونو کښې قنبرعلي خان چې د پښتو ژبې او ادب کلاسیکي شاعر دے، هم د دغه علاقې سره تعلق لرلو چې په شروع کښې د میر انور شاه سخت مخالف ؤ، خو چې کله ئې په حلقه کښې راغلو نو بیا ئې کلک معتقد او ملګرے ؤ.

" قنبرعلي خان د اورکزئ قبیلې د عبدالعزیز خېلو د ځانګې د باقي خېلو په پښه کښې د سرورخان کره د تیراه د مشهورې درې دره مني خېل په کلایه نومې کلي کښې سترګې غړولي وې-"[4]

قنبرعلي خان په خپله شاعرۍ کښې د خپل پیر او مرشد انور شاه بابا ډېر صفت او مدحه بیان کړې ده د نمونې په توګه څو شعرونه لکه:

" کامـــــل پیـــــر دے انـــــور شـــــاه صـــــاحب بـــــاور کـــــړه
زۀ قنبرعلـــــــي ئـــــــې ځکـــــــه دامـــــــن ګیـــــــر یـــــــم
همـــــــــه واړه عنایـــــــــت د انورشـــــــــاه دے
چـــــــې د مـــــــدح ګـــــــل راؤړم د زړۀ لـــــــۀ باغـــــــه
انورشـــــاه صـــــاحب لـــــۀ فضـــــله لـــــۀ کرمـــــه
د قنبرعلـــــــي پـــــــه فقـــــــر احتـــــــرام دے
انـــــور شـــــاه صـــــاحب دے روح قنبـــــر دے جســـــم
پـــــه قنبـــــر زړۀ د هـــــاتف شـــــوے الهـــــام دے-" [5]

قنبرعلي خان افریدے د تیراه نه پېښور ته راغلے ؤ او په بالا ماڼۍ کښې مېشته ؤ چې هم دلته وفات شوے دے چې قبر ئې د بالا ماڼۍ په مقبره کښې د چراغ بیګ چې د مغل باچا تیمور لنګ جرنیل ؤ د هغه په خوا کښې دے. په جنازه باندې ئې په زرګونو مغل او پښتانۀ حاضر شوي وو چې په کال ۱۲۰۷ هـ کښې وفات شوے ؤ.

د قنبر علي خان مرثیه میر انور شاه لیکلې ده چې د خپل مرید په مرګ باندې ئې ډېر خفګان ښکاره کړے دے. دا مرثیه ډېر تاریخي ارزښت لري. میر انور شاه وائي چې په خپل کور کښې ناست ووم د جمعې مبارکې شپه وه او د رجب المرجب یولسم تاریخ ؤ چې د قنبرعلي خان د مرګ خبر را ورسېدو. په دې مرثیه کښې ئې د قنبرعلي خان ډېر صفات بیان کړي دي چې ډېر سخي، بهادر، د صوم و صلوة او تلاوت قرآن پابند ؤ د سلوک او تصوف لۀ رموزو خبر ؤ فصیح، شیرین زبان او عالم فاضل شاعر ؤ لکه:

" د جمعې شپه د رجب یوولسم وه
په باقي عالم قنبر ایښے قدم وه
لۀ دنیا ئې رحلت وکړو و عقبیٰ ته
کور په کور په همګي دوستانو غم وه
په عشرت په هوس ناست ووم په خپل کور کښې
خبر نۀ ووم د هجران غشے راسم وه
تلاوت ئې د قرآن خمس الاوقات کړه
تسبیح ذکر ئې اوراد خفیه هر دم وه
د سلوک په علم پوې هم خبردار وه
تصوف علم ئې کړے معلم وه
ښه فصیح شیرین زبان شاعر عالم وه
مدح ګوئے لۀ دل وجان د قشمشم وه
په الکه د پشاور دفن په خاک شه
متصل د چراغ بېګ په قبر هم وه
مغلان و افغانان باندې حاضر وو
په زرګونو بې حسابه خلق جم وه
انورشاه د فاتحه د ستا په روح کا

چې همېش په ملاقات د ستا خرم وه
زر و دوه سوه اووم کال د هجرت وه
میر انور دا غزل وئیلې د ماتم وه [6]

همېش خلیل د دیوان قنبرعلي خان په مقدمه کښې دا د " الکه " دا تورے " آبلے " راؤړے دے چې معني ئې ورته ادیره لیکلې ده.

د سید انور شاه د خپل مرید خاص سره ډېره مینه وه د هغه په مینه، غم، درد او یاد کښې ئې یوه بله مرثیه هم لیکلې ده

"هائے توبه توبه دنیا فاني لوټلي
مرګے شته دے ناوکي غشي دې ولي
کۀ هر څو ئې تفحُص په هر طرف کړم
څوک خبر نۀ دي ګړنګ نه پرېوتلي
میر انوره کۀ دیدن کړې اوس دا وار دے
پېښور نه د قنبر پلنګ اخلي [7]

قنبرعلي خان سره عجیبه واقعه شوې وه په پېښور کښې د اهل بېتو د مینې محبت لۀ وجې سنګسار کړے شوے ؤ. دغه واقعه ډاکټر مقیل حسېن دا سې بیانوي

"قنبر علی سید انور شاہ کے مرید خاص تھے سید موصوف کی صحبت سے انھوں نے عظیم فیض حاصل کیا تھا. اپنے آخری انجام کے بارے میں انھوں نے فرمایا تھا کہ میری عاقبت کی جگہ نجف یا کربلا ہے میں جھاں بھي مر جاؤں میر اجسد خاکی ادھر لے جایا جائے گا انہیں ولائے اھل بیت کے جرم میں پشاور میں بھانہ ماڑی کے مقام پر سنگسار کیا گیا تھا. اس وقت جناب

سید انور شاہ اپنے گاؤں کلایہ میں تھے علم و عرفان کے مالک سید میر انور شاہ اپنے یار کا دیدار کلایہ سے کر رہے تھے۔"[8]

د پښتو ژبې او ادب په عوامو او خواصو، حجره جمات، پوله پټي کښې يو شان معروف او مقبول شاعر رحمان بابا هم ځان ته يو دبستان او سبک لري چې ډېرو شاعرانو ترې نه فيض او رنګ اخستے دے. دغه شان سيد انور شاه بابا هم لکه زمونږ د زبرګ او صوفي شاعر رحمان بابا غوندې علمي او عملي صوفي دے- په کلام کښې ئې د تصوف ټول مراتب، مقامات او رنګونه په نظر راځي او د رحمان بابا نه ئې ډېر اثر اخستے دے. د نمونې په توګه د دې يؤ مشهور غزل چې د درويشانو په کردار ليکلے شوے دے وړاندې کولے شي. داسې برېښي چې د دې غزل د ليک په وخت کښې ئې د رحمان بابا ديوان مخې ته پروت وي او دا يوه مصرعه خو ئې کټ مټ د رحمان بابا د ديوان نه راخستې ده " خزان نه لري بهار د درويشانو " او د غزل د مقطعې وروستۍ مصرعه هم د لفظ نيم په فرق سره هغسې ده لکه " چې اظهار ئې کړو کردار د درويشانو " دغه مذکوره غزل رحمان بابا ديارلس شعرونه ليکلے دے او انورشاه بابا اوولس (۱۷) شعرونه. څو شعرونه د رحمان بابا او څو شعرونه د انورشاه بابا د کتو دي.

رحمان بابا وايي:

"کـــــۀ نظـــــر کــــا څـــــوک پـــــه کـــــار د درويشــــــانو
خـــــــود بـــــــه ووينـــــــــي وقـــــــارد درويشــــــــانو
هســـــــې ګـــــــرَم بـــــازار بـــــل پـــــه جهـــــان نشــــــته
لکـــــــــه ګـــــــــرم دے بـــــــــازار د درويشــــــــانو
بادشـــــــــاهان د دې دنيـــــــــــا واړه پراتــــــــــــه دي
لکـــــــه خـــــــاؤرې پـــــــه دربـــــــار د درويشــــــانو
هـــــر بهــــــار لــــــره خــــــزان پــــــه جهــــــان شــــــته دے
خـــــــزان نـــــــۀ لـــــــري بهـــــــار د درويشـــــــانو

د جنت د باغ ګلونه به ئې هیر شي
کۀ څوک وویني ګلزار د درویشانو
د قارون وَحال ته ګوره حال ئې څۀ شو
راشه مۀ کوه انکار د درویشانو
درست دیوان د رحمان ځار تر دا غزل شه
چې بیان ئې کړو کردار د درویشانو "[9]

سید میرانورشاه بابا وایي:

کۀ عمل کړې په ګفتار د درویشانو
سود به واخلې لۀ بازار د درویشانو
پېروي د دیؤ و خدائے ته وسیله ده
ثابت دروم په رفتار د درویشانو
د خزان د باد ګذر ئې په باغ نۀ شي
طراوت لري ګلزار د درویشانو
کۀ د زړۀ په آئینه څوک نظر وکا
خزان نۀ لري بهار د درویشانو
په غضب چې ئې قارون په زمکې غرق شه
راشه وګوره ګوذار د درویشانو
کۀ نفیس متاع څوک غواړي نۀ ئې مومي
مونده کېږي په بازار د درویشانو
بادشاهان به د جهان واړه فنا شي
زوال نۀ لري سرکار د درویشانو
میر انور ئې لۀ احواله خبردار دے

چـــــې اظهــــــار ئـــــې کــــړه کـــــردار د درويشـــــانو "[10]

مونږ ته د ميرانورشاه بابا د ديوان "صحيفۀ انوريه" د لوستو نه دا اندازه هم لګي چې هغوي خپل کلاسک شاعران لوستي دي. د پښتو ژبې او ادب پلار خوشحال خان خټک په غزل زمونږ ډېرو شاعرانو تضمين کړے دے. مير انور شاه بابا هم د دغه سلسلې يوه کړۍ ده. د خوشحال بابا د غزل مطلع او مقطع څۀ په دې ډول ده.

" لکـــه زۀ پـــه يـــار مئـــين يـــم بـــل بـــه نـــۀ وي مئـــين هســـې
لکـــه زۀ پســـې غمـــژن يـــم بـــل بـــه نـــۀ وي غمـــژن هســـې
چـــې خوشـــحال خټـــک ئـــې وائـــي پـــه پښـــتو ژبـــه خبـــرې
پـــه فارســـۍ ژبـــه بـــه نـــۀ وي کـــۀ پـــوهېږې ســـخن هســـې "[11]

د خوشحال بابا د کورنۍ اکثرو شاعرانو لکه اشرف خان هجري، عبدالقادرخان خټک، صدرخان خټک نه علاوه نورو شاعرانو لکه اشرف خليل، عبدالغفورخليل، رستم خان اورکزي، لطف الله خان مموزي (اورکزي)، قنبرعلي خان او سيد مير انور شاه پرې تضمين کړے دے. انور شاه بابا د صدرخان په دې مضمون ليکلي شوي شعر جواب ئې کړے دے لکه

" څـــــۀ د هـــــر شـــــاعر جـــــواب کـــــړې ميـــــر انـــــوره
بـــس د صـــدرخان دے دا جـــواب پـــه مضـــمون هســـې[12]

هم په دې غزل د سيد مير انور شاه د مريد خاص قنبرعلي خان د غزل دا مطلع او مقطع هم د لوستو دي.

"د الله د ذات لـــهٔ نُـــوره لـــري ســـر پېوســـتون هســـې
لکـــه امـــر د قـــدرت وشـــي پـــه کُـــن فيکـــون هســـې
پـــه دا فکـــر د قنبرعلـــي د چـــا علـــم رســـېږي
انورشـــاه پـــه حکـــم راغـــے دا غـــزل پـــه قـــانون هســـې[13]

سيد مير انور شاه بابا د حميد بابا نه هم اثر اخستے دے حميدبابا چې د خپل محبوب او دوست برات پهٔ هجر او جدائۍ کښې کوم دردېدلے مخمس ليکلے دے هم پهٔ دغې باندې مير انور شاه بابا تضمين کړے دے. داسې لګي چې د حميد بابا ديوان ئې مخې ته پروت دے او د هغې جواب ليکي د دې مخمس هر بند ښکلے او پهٔ تول تللے دے. پهٔ يو بند کښې ئې قنبرعلي خان او حميد بابا پهٔ نومونو سره ياد کړي دي نو پهٔ دې خبره کښې هېڅ شک شبه نهٔ پاتې کېږي چې ګنې دا به ئې د حميد بابا بهٔ مخمس نهٔ وي ليکلے لکه د حميد بابا د مخمس يو بند

د هجـــران لـــهٔ لاســـه ناســـت يـــم ويـــرژړلے
لکـــه بُـــت پـــهٔ غتېـــو ســـترګو دم خـــتلے
بېهـــوده پـــه صـــورت روغ پـــه زړهٔ نـــتلے
بېلتانـــهٔ پـــه مرګـــي حـــال يـــم رســـولے
ربـــه راولـــې اشـــنا پـــه ســـفر تللـــے[14]

انورشاه بابا وايي:

د کثـــرت پـــهٔ بـــازار مېشـــت د عـــالم کلـــے
څـــوک دې ســـور پـــهٔ دا بـــازار ګرځـــي څـــوک پلـــے
د چـــا تـــن دے پـــهٔ لبـــاس د پـــلاس ســـوے
چـــا خلعـــت دے د اطلســـو اغوســـتلے

شـــــه پـــــه ســــــر د يـــــو انبـــــار د خـــــاؤرو ځلـــــے
د قنبــــــر عبدالحمی‍ــــــد ځـــــواب بـــــه څـــــو کـــــړې
د دانـــــش عقـــــل فـــــرس پـــــه تـــــګ و پـــــو کـــــړې
د رمـــــــوز خبـــــرې واړه پـــــه پښـــــتو کـــــړې
میـــــر انـــــوره دا بهتـــــر کـــــۀ خـــــوئي د ښـــــو کـــــړې
خـــــوئي خصـــــلت د ښـــــو هـــــر چـــــا د ے پســـــندلے [15]

اوس د قنبرعلي خان د مخمس نه د حمید بابا جواب هم د کتو د ے وايي:

چـــــې د ښـــــکلو پـــــه غمـــــزو ســـــره شـــــهید د ے
د هغـــــو دلـــــې عاشـــــور او وورې عیـــــد د ے
دا جـــــواب چـــــې د مهمنـــــد عبدالحمیـــــد د ے
د خوبـــــانو د غوږونـــــو مرواریـــــد د ے
چـــــې پـــــۀ غـــــوږ ئـــــې وي د عقـــــل جنګـــــولے [16]

دا د پښتو ژبې او ادب د پاره ډېره د خوش بختئ خبره ده چې سید حسېن انوري، میرانورشاه بابا دریافت کړے او موندلے د ے او بیا ډاکټر سید مقیل حسېن حسېني د پښتنو نه علاوه اردوداني طبقې سره هم معرفي کړے د ے. بیا ډېره د خوش قسمتئ خبره دا ده چې میر انور شاه بابا په خپل کلام کښې د ځینې کلاسک شاعرانو ذکر کړے د ے. هر څو کۀ قنبرعلي خان خپل پیر او مرشد ستائیلے د ے ولې کلام ئې زمونږ په لاس کښې نۀ ؤ.

پۀ دغو کلاسک او زړو شاعرانو کښې سید میر انور شاه بابا پۀ دوه ځایونو کښې د یو نوم ورکي شاعر میرحسن زي ذکر کړے د ے هغه خپل پېشرو ګڼي او د هغۀ پۀ تتبع کښې ئې دوه غزلې لیکلي دي چې د دغه دوه مذکوره غزلونو نه پۀ ډېر کړان او زیار یو غزل پۀ ورځپانه وحدت

پېښور کښې چاپ شوے دے. د دغه کالم سرخط دے " میرحسن زئي بنګښ، یو ګمنام شاعر " چې لیکوال ئې د سید حسېن انوري زوئے سید ابن حسن دے. مذکوره کالم د ډېر اهمیت او تاریخي ارزښت ورِ دے. سید ابن حسن د میرحسن زي د پېژندګلو او نورو معلوماتو نه پرته د میرحسن زي د کلام دوه نمونې هم شریکې کړي دي، چې یو په کښې نعت شریف او دوېم غزل دے د کوم ذکر چې انور شاه بابا پهٔ خپل کلام کښې کړے دے. انورشاه بابا فرمائي:

" تتبـــــع دې میرغـــــزل ځـــواب انـــــور کــــا
کـــــهٔ پـــــهٔ آل د عبــــا دا کـــــلام منظـــــور وے

بل شعر دے:

انورشـــــاه ځـــواب د میـــــر د دې غـــــزل کــــا
کـــهٔ یعقـــوب لـــهٔ ښایســـته یوســـف خبـــر وے[17]

اوس د میرحسن زي د غزل نه څو شعرونه، چې دغه مذکوره مصرعه پکښې ذکر ده

"کـــهٔ یعقـــوب لـــهٔ ښائســـته یوســـف خبـــر وے
صـــــبح و شـــــام مګـــــر د مصـــــر قلنـــــدر وے
یـــؤ دیـــدن بـــه مـــې پـــه ډېـــرې بهـــا وکـــړې
کـــهٔ مـــې مـــال وے د عزیـــز پـــهٔ دود تـــوانګر وے
ګـــوره مـــا بـــه پـــهٔ ټـــول عمـــر مغفـــرت کـــړل
راڅخـــه کـــهٔ د لقمـــان حکـــیم هنـــر وے
میـــر غریـــب بـــه ئـــې دیـــدن پـــهٔ هـــره ورځ کـــړه
کـــهٔ دیـــدن یـــاران ئـــې ســـتوري د ســـحر وے "[18]

ابن حسن د میرحسن زي پېژند ګلو دا سې کوي

" نامه ئې میر وه او تپه حسن زی، بنګښ ؤ. د زیړان کورمې اوسېدونکے ؤ. لۀ بده مرغه د میربنګښ تاریخ پېدائش او تاریخ وفات معلوم نۀ دے. دا رنګې د محتاط اندازې پۀ مطابق میربنګښ پۀ یولسمې صدی، هجري کښې ژوند کولو. اخري ارام ګاه ئې زیړان میرکلان پۀ قبرستان کښې دے. دا سې ښکاري لکه چې دا قبرستان هم د دوي نوم سره نسبت لري."[19]

دې نه علاوه د سید میر انور شاه بابا کلام د ډېرو علمونو او تاریخونو خزانه او سمندر دے، خو یو زیرک او پوهه څېړنکار ته اړتیا لري چې د دغه خزانې نه قیمتي لعلونه را اوباسي اؤ پښتو ژبه اؤ ادب پرې منوّر کړي.

# حوالې

1 : خان، نصرالله، ډاکټر، پښتو ، جلد ۴۹، نمبر ۲۷۰، جولائي دسمبر ۲۰۲۰ ء، پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي، مخ: ۲۰۸
2 : ميرانورشاه، سيد ، صحيفه انوريه، تدوين سيد حسېن انوري، مترجم ډاکټرسيدمقيل حسېن حسېني، عدن پرنټرز لاهور، اشاعت سوم، ستمبر ۲۰۱۸ ء، مخ: ۱۰
3 : همدغه، مخ: ۸
4 : ديوان قنبرعلي خان، مرتبه همېش خليل، دارالتصنيف عقب ډاکخانه قصه خواني پېښور ښار، منظورعام پرېس پېښور، دوېم چاپ نومبر ۱۹۷۲ ء ، مخ: ۹
5 : ميرانورشاه، سيد ، صحيفه انوريه، مخ: ۲۲، ۲۲
6 : همدغه ، مخ: ۲۸۲ تا ۲۹۰
7 : همدغه ، مخ: ۲۲۴، ۲۲۲
8 : هم دغه، مخ: ۲۲۷
9 ديوان عبدالرحمان بابا ، زېب آرټ پبلشرز محله جنګي پېښور، ۱۹۷۲ء، مخ: ۸۳،۸۴
10 : صحيفه انوريه، مخ: ۳۵۰، ۳۵۲
11د خوشحال خان خټک کليات، سرمحقق دوکتور سيدمحي الدين هاشمي، مهيمن خپرندويه ټولنه پېښور، جلال اباد ، ۲۰۱۸ء مخ: ۴۱۰، ۴۱۱
12ميرانورشاه، سيد ، صحيفه انوريه، مخ: ۳۲۲
13ديوان قنبرعلي خان، مرتبه هميش خليل، دارالتصنيف عقب ډاکخانه قصه خواني پېښور ښار، منظورعام پريس پېښور، دويم چاپ نومبر ۱۹۷۲ ء ، مخ: ۷۸،۷۹
14 د عبدالحميد مومند ديوان، د افغانستان د علومو اکيډمي، ګوندي مطبعه، ۱۳۲۳ هـ ش، مخ: ۵۵۰
15 صحيفه انوريه، مخ: ۲۷۲، ۲۸۰
16 ديوان قنبرعلي خان، مخ: ۱۵۲
17 صحيفه انوريه، مخ: ۴۹۰، ۴۹۴
18 : ورځپاڼه وحدت پېښور، يکم جنوري ۲۰۲۲ء
19 : همدغه.